
Office of Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستــان اقتصــادي پــرمختګ

## خبرپاڼه

درېیم کال - ۳مه ګڼه | پرله‌پسې ٦٥مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۱/۲۷



په افغانســتان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېــږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختــګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د ۵۰۰ میلیونه ډالرو سوداګریز هوکړه لیکونه

۲- د حیرتان بندر ۲۴ ساعته کېدل د اقتصادي همکاریو د پراختیا په لور مهم ګام

۳- د جوزجان یتیم تاق کې د ګازو نوې خاګانې د انرژۍ سکټور د پرمختګ له پاره مهم زیری

## د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د ۵۰۰ میلیونه ډالرو سوداګریز هوکړه‌لیکونه

د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت اعلان کړی چې د افغانستان او ازبیکستان د خصوصي سکټورونو ترمنځ د څه باندې ۵۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت د همکارۍ مهم هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي. دا هوکړې د دواړو هېوادونو د سوداګرو، پانګوالو او مسوولینو په ګډون د سوداګریز تواصل کنفرانس په ترڅ کې وشوې چې د سیمه ییز اقتصادي اتصال د پیاوړتیا له پاره یو مهم ګام بلل کېږي. د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي دا ډول



سوداګریز کنفرانسونه د هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د کچې لوړولو مهمه لاره وبلله. نوموړي زیاته کړه چې د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د دې هوکړو عملي کېدل به د صادراتو زیاتوالي، د کارموندنې فرصتونو پراختیا او د خصوصي سکټور پیاوړتیا ته زمینه برابره کړي. دا هوکړې به د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزه راکړه ورکړه څو چنده لوړه کړي او افغانستان به له یو مصرفي بازار څخه په تدریجي ډول د تولید او صادراتو پر لور بوځي. همدارنګه، د سیمه ییز اتصال پراختیا به افغانستان د منځنۍ او جنوبي اسیا د سوداګریزو دهلیزونو په مهم محور بدل کړي. په ټوله کې، دا پرمختګ د افغانستان له پاره د اقتصادي همکارۍ د نوي فصل پیل ګڼل کېږي او تمه ده چې په لنډ وخت کې به د هېواد پر اقتصادي ثبات او وده مثبت اغېز ولري.

## د حیرتان بندر ۲۴ ساعته کېدل د اقتصادي همکاریو د پراختیا په لور مهم ګام

د ټولګټو چارو وزارت اعلان کړی چې د حیرتان بندر د خدماتو ۲۴ ساعته کېدو په اړه له ازبیک لوري سره هوکړه شوې ده، چې دا اقدام د افغانستان د اقتصاد له پاره




یو مهم بدلون بلل کېږي. دغه هوکړه د افغانستان او ازبیکستان د اوسپنې پټلۍ د مسوولینو ترمنځ د لیدنې پر مهال شوې ده. د مسوولینو په وینا، د یاد بندر ۲۴ ساعته فعالیت به د توکو د انتقال چټکتیا، د لابراتواري خدمتونو اسانتیا او د سوداګرو د لګښتونو کمېدو ته زمینه برابره کړي. تر ټولو مهم پرمختګ دا دی چې د انتقالاتي واګونونو شمېر به له ۱۳۰ تر ۵۰۰ او ان تر ۷۰۰ واګونونو پورې لوړ شي. حیرتان بندر له مرکزي اسیا سره د افغانستان د ننبلون مهمه دروازه ده او د دې بندر ۲۴ ساعته فعالېدل د وارداتو او صادراتو پر بهیر مستقیم اغېز لري. د بندر ۲۴ ساعته فعالیت به د توکو د تم کېدو

وخت کم کړي، سوداګریز لګښتونه به راټیټ او د افغانستان د ترانزیټي موقعیت ارزښت به لا لوړ کړي. د اوسپنې پټلی له لارې انتقالات د سړکونو په پرتله ارزانه، خوندي او چټک دي. له همدې امله دا اقدام کولی شي د سوداګرو باور زیات او د سیمه ییزې سوداګرۍ حجم لوړ کړي. همدارنګه، د دې پرمختګ له امله به افغانستان د مرکزي اسیا او سویلي اسیا ترمنځ د ترانزیټي دهلیز په توګه خپل رول پیاوړی کړي.

# د جوزجان یتیم تاق کې د ګازو نوې څاګانې د انرژۍ سکتور له پاره د پرمختګ زیرۍ

د کانونو او پټرولیم وزارت اعلان کړی چې د جوزجان ولایت په یتیم تاق سیمه کې د ګازو د نویو څاګانو د کېندلو چارې پیل کېږي. دا پروژه د افغانستان د انرژۍ سکتور د پیاوړتیا له پاره یو مهم ګام ګڼل کېږي. د یاد وزارت د هایدرو کاربونو عمومي رییس ویلي چې د دویمې څاه د کېندلو چارې روانې دي او ډېر ژر به د نورو څاګانو کیندنه هم پیل شي. د معلوماتو له مخې، د نویو څاګانو له بشپړېدو وروسته به د ګازو د استخراج ورځنۍ کچه شاوخوا یو میلیون او ۲۵۰ زره متره مکعب ته لوړه شي. دا پرمختګ کولی شي د هېواد د کورنۍ انرژۍ د تولید کچه لوړه او پر وارداتي انرژۍ تکیه راکمه کړي. د ګازو زیات تولید به د برېښنا تولید، صنعتي فابریکو او کورونو ته د انرژۍ برابرولو له پاره مهمه سرچینه شي. د انرژۍ سکتور پراختیا د صنعتي ودې بنسټ جوړوي. د ګازو تولید زیاتوالی به د صنعتونو لګښتونه کم کړي، پانګونه به جذب او د کارموندنې نوي فرصتونه به رامنځته کړي. همدارنګه، د طبیعي ګازو د تولید زیاتوالی کولی شي افغانستان په راتلونکي کې د انرژۍ د صادراتو له پاره هم چمتو کړي. دا پروژه د ملي اقتصاد د ودې له پاره اوږدمهاله مثبتې اغېزې هم لري.

په ټوله کې، د یتیم تاق پروژه د افغانستان د طبیعي سرچینو د اغېزناکې استفادې او اقتصادي ځان بسیا کېدو پر لور یو مهم ګام بلل کېږي.

